مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲/۰۹/۱۴

# غزل

جوړ کړی يې د اوښکو رودِ نيل دی او تمثيل دی
جګ کړی يې په ونه باندې پيل دی او تمثيل دی

ښکاره يې سيپاره لاس کې نيولې ده او ژاړي
څادر لاندې يې پټ د توپک ميل دی او تمثيل دی

چې مات يې په تمثيل کړلو هماغه يې امير دی
بس دغه کرامت د دې رذيل دی او تمثيل دی

ښامار دی؛ په ظاهره توتکيو نه عاجز دی
زده کړی يې صورت د ابابيل دی او تمثيل دی

که ورځ کې ميليونونه افغانان مري، نو بس مري دې
ولا که د ټول ملک په مرګ هم ډيل دی او تمثيل دی

د چا په ضد چې جنګ دی او اخيستې ازادي ده
باوره! د هغه په لاس تمويل دی او تمثيل دی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ